تاند ۲۰۱۶/۱۰/۰۱

جنرال عبدالرازق: ملا دادالله او ملا محمد عمر تر ټولو ښه مجاهدین ول چې هېڅ غلاوې یې نه وې کړې



د کندهار د امنیې قوماندان او د سیمې بانفوذه پوځي مشر جنرال عبدالرازق د شمال ټلوالې د سرسخت پلوې استاد عبدالرب رسول سیاف د تېرې ورځې د څرګندونو په وړاندې توند غبرګون وښود.
ویل کیږي چې ښاغلي سیاف تېره ورځ د جمعیت اسلامي د وژل شوي مشر برهان الدین رباني د تلین په مراسمو کې خبرې کولې چې د نورو تر څنګ یې له حکومت نه دا غوښتنه وکړه چې د مجاهدینو د مشرانو په نامه دې دولتي مډالونه راوباسي.

استاد عبدالرب رسول سیاف

په یوه ویډیو کې چې په ټولنیزو رسنیو خپره شوې ښاغلی عبدالرازق وایي چې سیاف دې د افغانستان هغه خلک چې له لاسه یې افغانستان په ټوټو وېشل شوی وو له احمدشاه بابا، میرویس نیکه، وزیراکبرخان، میرمسجدي خان او نورو ملي مشرانو سره نه برابروي. جنرال رازق وایي، «زه له استاد سیاف او نورو هغو چې ځانونه جهادي مشران ګڼي، غوښتنه کوم چې خپل غله دې د دغه هېواد له پخوانیو ملي مشرانو سره نه برابروي، غازي امان الله خان دا هېواد له بهرني استعماره خلاص کړی، احمدشاه بابا او میرویس نیکه د دغه هېواد جوړوونکي وو او لومړنی خښته یې هم دوی ایښې ده.»
جنرال عبدالرازق وایي، غازي امان الله خان، وزیر محمداکبر خان، میر مسجدي خان او لسګونه نور ملي مشران باید د پنځو ورځو له نا اهله کسانو سره برابر نه شي. هغه وویل، ایا دوی غواړي چې دولتي مډالونه دې د زرداد، قلم، توپان او نورو هغو په نومونونو ونومول شي چا چې د جهاد په نوم جنایتونه کړي؟



ملا محمدعمر مجاهد

جنرال په خپلو خبرو کې مخکې ځي او وایي چې د جهاد او مقاومت په نامه د ده او هغه نومونه، ستاینې او درناوی د ولس لپاره د منلو وړ نه دی، جهاد ولس کړی دی او که نه بیا خو تر ټولو ښه جهاد ملا دادالله او ملاعمر کړی دی چې ملا دادالله په کې خپلې دواړه پښې له لاسه ورکړې. ښاغلی رازق وایي، «که خبره د جهاد وي، نو بیا خو ملا دادالله ښه مجاهد و چې په دې لاره کې یې خپلې پښې له لاسه ورکړې وې، ملا عمر ښه مجاهد و چې دلته یې نه ځمکې او نه جایداد شته، هغه چې د جهاد او مقاومت شعار ورکوي، په زرګونو جریبه ځمکې یې لاندې کړې دي، په لسګونو ماڼۍ یې جوړې کړې دي، ایا دوی د چور او چپاول لپاره جهاد کړی و؟»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښاغلی رازق زیاتوي، «که خبره د جهاد وي، نو بیا خو ملا عمر تر ټولو ښه مجاهد و چې دا هېواد یې د دوی له شره خلاص کړ، دا هېواد یې له ملک الطوایفي خلاص کړ چې په هره سیمه کې څو څو حکومتونه وو، هغه مهال زه هم د شر او فساد په همدې اداره کې وم، خو اوس پښېمانه یم او وایم چې ما بد کار کړی دی.»
جنرال عبدالرازق د شمال ټلوالې د پاتې شونو په هکله چې په ډېرو مواردو کې د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا ګواښي وایي، «موږ د شل کاله مخکې افغانستان نه غواړو او نه دې هغوی هغه خوبونه ویني، تېر ځل خو هغوی دا موقع ترلاسه کړه چې تر کولاب او مشهده ورسېدل، خو دا ځل به هغه حالت هم نه وي.»

ملا دادالله

ویل کیږی چې د قوماندان احمدشاه مسعود او د اروابناد برهان الدین رباني تر مشرۍ لاندې د نظار شورا او جمعیت اسلامي د ملېشو قوماندانانو له ۲۰۰۱ کال راهیسې په سلګونو او زرګونو میلیونه ډالر مرستې چې د غربي هېوادونو له خوا د افغانستان د بیا رغونې لپاره کېدلې چور او چپاول کړي، او د دې تر څنګ یې د افغانستان د وروستیو لسیزو د جنجالي څېرې او جنایتکار احمدشاه مسعود لپاره د ملي قهرمان او د برهان الدین رباني لپاره د سولې د قهرمان القاب ترلاسه کړل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ